لنډه کیسه

زوی ئې له پوهنتونه فارغ کېدئ، دا ډېره خوشاله وه چې د خپل خاوند لوی ارمان ئې پوره کېږي، ګرده ورځ په همدې فکر کې وه، چې باید زوی ته یو تحفه ور برابره کړي، ځکه دی ئې یوازنی هغه یتیم زوی دئ، چې ددې (مور) ماسېوا ئې بل هیڅوک نه درلودل، پر دې باندې هره دقیقه یو ساعت او هر ساعت ور باندې یوه ورځ کېده، دا د سهار له اتو بجو انتظار وه.

د غرمې دوولس نیمې بجې وې، چې زوی ئې د کور په دروازه راننوتی، په خندا او په لوړ آواز ئې ږغ وکړئ: مور! زوی دې له پوهنتونه اول نومره فارغ سو.

د ختو څخه د جوړې سوې خونې پرده پورته سوه، د مور ئې پوړنی په غاړه کې او لڅې پښې دده پر خوا چابکه، چابکه را روانه سوه، زوی ئې په غېږ کې ټینګ ونیوئ، خو د مبارکۍ او خوشالۍ پر ځای ئې په ژړا شروع وکړه. زوی ئې ورته وویل: مور ته ولې ژاړې؟ نن خو نده د خوشالۍ ورځ ده، زوی دې له پوهنتونه اول نومره فارغ سوی دئ، خو ته بیا هم سګلۍ (سلګۍ) وهې؟

مور ئې په ژړه غوني آواز ورته وویل: زویه! ستا پلار دې خدای وبخښې، هر وخت به ئې ما ته ویل، چې پدا زوی باید تعلیم وکړو او زما په رقم را لوی نه سي، چې ګرده ورځ د خان مزدوري وکړي او په اخیر کې که د خان خوښه وه، یو څه پیسې ور کوي او که ئې نه وه خوښه نه ئې ور کوي.

په دې خبرو سره ئې د زوی تر سترګو هم اوښکې راغلې، مور ئې څو وار پر مخ مچ کړئ او خونې ته روان سوه،غرمه وه نو دوی هم ډوډۍ وخوړه او زوی ئې کار ته ولاړئ.

ماښام چې له کاره راغلی، نو مور ته ئې وویل، چې څه شي مو پاخه کړي دي؟

مور ئې ورته وویل: نن د خوشالۍ ورځ وه، تا د خپل پلار ارمان ور پوره کړئ، نو هغه یو نیم ګلاس وریجې چې د هغه بلې ورځې څخه پاته وې، هغه مې پخې کړې.

Ketabton.com

ماخستن تر ډوډۍ وروسته [illegible] نن [illegible] پروګرام ټوله کیسه ورته وکړه او [illegible] مور [illegible] غریب [illegible] چې پلار ئې د خانانو د دسیسو ښکار سو، د پوهنځي په [illegible] اول نومره کېږي، ته سر وخت [illegible] وایې، چې غریبان بې بخته او کم بخته دي.

مور ئې دستي پسې ور غبرګه کړه: ګرار کېښېنه! دا د بخت خبره نه ده، تا خوارۍ کېښلي وې، پر درسونو دې شپې سبا کړي وې، نو خود به اول نومره کېږې.

د شپې چې ئې مور بیده کېدل، نو په دې فکر کې وه، چې زوی ته تحفه په څه شي ور رانیسي؟ د هر شي لوړ نرخ او خپله غریبي به چې ور په یاد سوه، د سترګو څخه به ئې د اوښکو سېل را روان سو، په همدې فکرونو کې بیده سوې وه. سهار چې ئې د زوی سره چای وڅښلې، نو زوی ئې ورته وویل: مورا زه نن لا پوهنتون ته ځم، هلته مې لږ کار لا پاته دئ او ددې خبرو په ویلو سره له خونې ووتئ.

مور ئې له فکرونو، فکرونو وروسته هغه د سپینو زرو والي او امېل را واخیستل، چې خاوند ئې دې ته ور کړي وه او دې د یادګار په ډول ساتل، د ځان سره ئې وویل، چې تر څو به دلته داغسې پراته وي، هغه سې ئې هم بنګړي او انګشتری نسته، ولاړه به سم او خرڅ به ئې کړم، چې زوی ته په هغه پیسو یو تحفه را نیسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بازار ته ولاړه، چي والي او امېل خرڅ کړي، خو هر چا خورا په لږو پیسو ور څخه اخیستل، په اخیر کي ئې پر یو چا په یو څه پیسو خرڅ کړه او په پیسو ئې د زوی کمپیوټر ته پلازما (سکرین) را نیول، چي د زوی د کمپیوټر پلازما ئې څو ورځي د ر مخه خرابه سوې وه، د پلازما سره کور ته راغله او د زوی په انتظار کښېنسته.

زوی ئې هم د پوهنتون په بهانه له کوره راوتلی وو، چي د خپل فراغت په خاطر مور ته یو شی ور رانیسي، نو خپل کمپیوټر ئې بازار ته را وړی وو، تر څو خرڅ ئې کړي، خو پخوانی ډیسک ټاپ کمپیوټر بې له پلازما څخه خورا ارزانه خرڅ سو او ده د کمپیوټر په پیسو مور ته د سپینو زرو بنګړي او انګشترۍ ور رانیول، ځکه مور ئې وختي والي او امېل درلودل، نو په دې بنګړو او انګشترۍ به ئې د زینت د شیانو سیټ پوره سوی وای، دی په خوشالۍ د کور خوا ته را روان وو.

د کور دروازې ته را ننوتی، در مخه تر دې چي دی پر مور رږغ وکړي، مور ئې ور ناره کړه: زویه! راسه د کمپیوټر پلازما مي در را نیول.

زوی چي ئې د مور دا خبره واورېده، بد خونده احساس ئې وکړئ، ځکه ده کمپیوټر خرڅ کړی وو، مور ته ئې وویل: مور! دا دي په کومو پیسو را نیول؟

مور ئې په خوشالۍ دده و خوا ته را وکتل او ورته وې ویل: هغه والي او امېل مي خرڅ کړه او دا پلازما مي په را نیول.

زوی چي ئې دا هم پسي واورېده، تر پخوا لا خوابدی سو او سر ئې کښته واچوئ. د زوی ددې حالت په لیدو سره ئې مور په کښته رږغ ورته وویل: زویه! نه سوه دي خوښه؟ خو داسي ښایسته او غټه پلازما ده.

زوی چي ئې سر کښته اچولی وو، په کرار رږغ ئې ورته را غبرګه کړه: یا، مور خوښه مي سوه، خو ما هغه کمپیوټر خرڅ کړئ او تا ته مي په هغه پیسو بنګړي او انګشترۍ در رانیول، چي تا مخکي یوازي والي او امېل درلودل.

مور چي ئې دا واورېده خورا مایوسه ودرېده، ځکه دې والي او امېل خرڅ کړي وه، د زوی کمپیوټر ته ئې پلازما ور رانیول خو زوی ئې کمپیوټر خرڅ کړی وو، زوی ئې بیا دې ته بنګړي او انګشترۍ ور رانیول، چي د زینت د شیانو سیټ ئې پوره سي، خو مور ئې والي او امېل خرڅ کړي وه، نو مور خپل زوی ټینګ په غېږ کي ونیوئ او په ژړه غوني آواز ئې ورته وویل: زویه! زه خو هر وخت ناکي نه درته وایم، چي غریبان بې بخته او بدبخته وي.

شمس آرین

۲/سرطان/۱۳۹۸

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library